## رسنۍ په اونۍ کې / د اکتوبر دريمه اوونۍ

دا اونۍ د خبريالانو او رسنيو تر ټولو زيات شکايتونه د اقتصادي ستونزو، د حکومتي مسوولينو لخوا د اطلاعاتو نه شريکولو او سانسور شدت له ناحيې وو. په زياتو ولايتونو کې د حکومت لخوا د اطلاعاتو او فرهنګ رياستونه د اطلاعاتو او معلوماتو د شريکولو يوازينۍ سرچينې ټاکل شوې دي، چې دغه ادرسونه هم يوازې د خپلې خوښې حکومتي معلومات له رسنيو سره شريکوي او ډيرکله د پيښو او ټولنيزو ستونزو په اړه چوپتيا غوره کوي.

## د رسنيو او خبريالانو وضعيت

تيره اونۍ د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې لخوا د خبريالانو د ستونزو او ګواښونو ۱۸ قضيې ثبت او ارزول شوې دي.

- په غزني ولايت کې د ملي تلويزون وياند وکيل اشرفي د طالبانو لخوا اطلاعاتو او فرهنګ رياست کې رټل شوی او سپکې سپورې ورته شوې دي.
- د آيينې ټلويزون خبريال جمال کمالزاده وايي چې د کابل د نوي ښار په پارک د يوې خبرې موضوع د پوښښ پر مهال د طالبانو لخوا وهل شوی دی.
- د خيبر نوښت په نوم راډيو چې د لغمان ولايت له سقوط سره سم ورته يو شمېر وسله وال طالبان ورغلي او ودانی يې ورنه نيولې، لا هم د دغو وسله والو په لاس کې ده او له امله يې د راديو نشرات لاهم بند دي. خونديتوب کمېټې په ولايتي او مرکزي کچه د دغې راډيو د ودانۍ د بيرته سپارلو او نشراتو د بيا پيل ډېرې هڅې وکړې خو هلته مېشت خو تراوسه يې پايله نه ده لرلې.
- نورستان کې دوه خصوصي راډيوګانې موجودې وې چې د اقتصادي ستونزو له امله تړل شوې او اوس هلته هيڅ رسنۍ نشته.
- په غور ولايت کې بيا د ( صدای سرحد) په نامه يوه راډيو تړل شوې ده.
- په فراه ولايت کې دوه خبريالان له ګواښونو سره مخ شول. يو يې د عروج راډيو خبريال و چې د يوه رپوټ له امله د طالبانو لخوا پرې نيوکه شوې وه او بل يې هم د نشاط راډيو مسوول و چې په خپلو خپرونو کې يې موسيقي نشر کړې وه چې له همدې امله د اطلاعاتو او فرهنګ رياست لخوا ترڅارلاندې و.
- له کندز ولايته هم يو خبريال د ګواښونو له امله کابل ته را کډه شوی دی.

## اقتصادي ستونزې

د اقتصادي ستونزو له امله ګڼې رسنۍ په ځانګړې توګه په ولايتونو کې څه تړل شوې دي او څه نورې هم د ترکيدو له ګواښ سره مخ دي.

- په فارياب ولايت کې د رسنيو مسوولين وايي که دغلته د رسنيو اقتصادي ستونزې همداسې دوام ومومي، نو مجبور به شي خپلې رسنۍ وتړي.
- په يوشمر ولايتونو لکه فراه کې بيا رسنيو د اقتصادي ستونزو له امله د خپلو کارکونو شمير بيخي کم کړی دی او هغه چې پاتې هم دي په خورا کم معاش خپلې دندې سرته رسوي.

## سانسور

- په فارياب ولايت کې د رسنيو مسوولين وايي دغلته د طالبانو له راتګ وروسته رسنيو ته د ژونديو يا لايف خپرونو د نشر اجازه نه ورکول کيږي. هغوی وايي د ځايي مسوولينو له سپارښتني سره سم بايد يوازې نعتونه او اسلامي ترانې نشر کړي، د موسيقي د خپرولو اجازه نه لري.

AJSC
Afghan Journalists Safety Committee
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

- هرات ولایت کې هم رسنیو ته ویل شوي چې که غواړي چاروکو سره مرکې وکړي نو لومړی دې له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره خبره شریکه کړي.
- په یوشمیر ولایتونو لکه نمیروز کې آن روغتیایي خپرونه کې ډاکټر او دیني خپرونه کې دیني عالم هم باید د امارت له لوري تایید شوی وي چې خپرونه کې ګډون وکړي.
- په غور ولایت کې بیا خبریالان مجبور دي چې د ولایت په کچه خبرونه چې امنیتي مسایل هم پکې شامل دي د اطلاعاتو او فرهنګ له ریاست سره شریک کړي، که هغوی اجازه ورکړه نو بیا به یې رسنۍ د نشر حق لري. د موسیقی د نشر اجازه قطعاً نشته او د خپرونو زیکنالونو کې هم باید اسلامي ترانې وکارول شي.

## اطلاعاتو ته لاسرسی

جالبه بیا داده چې په یو شمیر ولایتونولکه بادغیس کې امارتي مسوولین نه رسنیو سره کار لري او نه یې هم ملاتړ کوي.

برعکس ددې چې په ګڼو ولایتونو کې هغوی خبریالانو ته محدودیتونه وضع کوي.

## د ښځینه خبریالانو وضعیت

طالبان په یوشمیر ولایتونو لکه هرات کې د ښځینه خبریالانو د کار کولو په اړه روښانه پالیسي نه لري او په دې اړه پریکړه تل راتلونکي ته حواله کوي. بادغیس ولایت کې هم کله چې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست سره د ښځینه خبریالانو د کارد بیا پیلولو په اړه خبرې کیږي نو هغوی وایي چې د اوس لپاره غوره دا ده چې ښځینه خبریالانې په کور واوسي.

## مثبت ټکي

په هرات ولایت کې د معراج په نامه راډیو خپل نشرات بیا پل کړي دي، تلویزون یې هم د څو ساعتونو لپاره خپروني وکړې خو بیرته یې نشرات ودریدل.

بادغیس ولایت کې هم دوه غږیزو رسنیو بیرته خپل نشرات پیل کړي دي.

په نیمروز ولایت کې بیا ( برنا راډیو او تلویزون)،( دوست راډیو)، ( صدای سیستان راډیو)او ( ملي راډیو او تلویزون) بیرته خپلې خپروني پیل کړې دي.

په کندز ولایت کې هم د ( اورانوس) په نامه خصوصي تلویزون خپلې خپروني بیا له سره پیل کړې دي.

له اقتصادي ستونزو راواخله بیا تر، سانسور، اطلاعاتو ته نه لاسرسۍ او هم دا چې خبریالان باید کومې ازادۍ ولري، د دوی دخوندي فعالیت لپاره کوم میکانیزمونه او شرایط په پام کې ونیول شي. اطلاعات به په کوم ډول په چټکۍ او سمه توګه دوی ته ورکول کیږي؟ او داسې لسهاوو نورې پوښتنې او ننګونې شته چې په هیواد کې یې د خبریالانو او رسنیو کار له ننګونو سره مخ کړی دی.